

# ولادیمیر ایلیچ لنین

نادژدا کروپسکایا

ژباړه: ولي





په دیوال د یوه سړي عکس بند و.

کوچني واسیا وپوښتل:

ـ پلاره، د دې عکس په اړه خو را ته یو څه ووایه.

ـ پیژنې یې؟

ـ هو، لنین دی.

ـ شاباس، هو، دا زموږ ګران لارښود، ولادیمیر ـ ایلیچ لنین دی.



د واسیا پلار خپل سرګذشت څه داسې پیل کړ:

ـ ډیر کلونه مخکې، کله چې زه ډیر ځوان وم، مونږ کارګرانو ډیر بد ژوند درلود. له سهار وختي د شپې تر نیمایي پورې مو د سپو په شان کار کاوه، خو بیا هم تل نیسمتن وو. یعنې ان خپلې خیټې مو مړولی نشوی. په هغه کارخانه کې چې ما کارکاوه، ډیر نور کارګران هم ول. د کارخانې د مالك نوم دانیلوف و. دې دانیلوف کار نه کاوه، لاسونه یې نه په تورو وهل او نه هم په سپینو، خو ډیر زیات شمتن و!



زویه، څه فکر کوئ چې دومره شتمني یې له کومه کړی وه؟ زمونږ له کار څخه. هغه مونږ ته د زیات کار په برابر کې لږ مزد راکاوه، دومره لږ چې زمونږ له کاري ځواك څخه د هغه غلا د ورځې په شان روښانه وه. د همدې لپاره یې زمونږ له کار او زحمت څخه لویه شتمني لاس ته راوړه. کارخانه د هغه وه، ماشینونه او پیسې هم د هغه وی، په داسې حال کې چې مونږ د خپلو تشو لاسونو پرته بل څه نه درلودل.

د همدې لپاره هم مونږ مجبور وو چې ورته کار وکړو. هرې کارخانې ته چې به تللئ همدا وضعیت و. داسې فکر ونکړئ چې یوازې د دانیلوف په کارخانې کې مونږه بدمرغي وو.

کلیوالو هم په کلیو کې سخت ژوند درلود.



په کلي کې هم ټول شیان د ارباب وو او بزګرانو زمونږ په شان څه نه لرل. هغوې هم شپه او ورځ د ارباب لپاره کار کاوه او په خپله فقیر او ناداره ول.

مالکان، یعنې ملکان او پانګوالان د یو بل ملاتړي ول. ټولو د هیواد تر ټولو شتمن او ځواکمن مالک یعنې پاچا سره معامله درلوده. پاچا د هغو ټولو ارباب او مالك و او د هغه حکومت داسې یو حکومت و چې هیواد یې یوازې د خانانو او پانګوالانو لپاره جنت ګرځولی و. خو دهقانانو او کارګرانو داسې سخت ژوند درلود چې هیواد ورته له دوزخ نه هم سخت تمامیده.





ولاديمير د کارګرانو دوست او ملګرى و. موخه يې دا وه چې د هيواد د دولت ډول بدل کړي. غوښتل يې داسې کار وکړي چې هر زيارکښ انسان ښه ژوند ولري او په خپل ټول ژوند کې، په همدې لاره کې، مبارزه وکړه.

ولاديمير لومړی ټول هغه کسان چې د زيارکښانو ملاتړي ول، راغونډ او بيا يې ګوند جوړ کړ.





ګوند دې نتيجې ته ورسيد چې له جګړې پرته هيڅ څه لاس ته نه راځي. د هيواد ټول کارګران او زيارکښان هم آخر همدې نتيجې ته ورسيدل.

لنين، کارګرانو ته ګران و، خو خانان او پانګوالان د هغه دښمنان ول. د پاچا پوليسو هغه نيو، زندان ته يې اچو، د سيبري کنګل شوي سيمې ته يې تبعيد کړ او غوښتل يې چې د عمر تر آخره پورې يې په زندان کې وساتي. له همدې امله، لنين له روسيې څخه مهاجرت وکړ. له هماغه ځای څخه يې کارګرانو ته کتاب ليکو چې څه بايد وکړي. له هغه وروسته چې کارګرانو پاڅون وکړ، وطن ته راستون شو چې د کارګرانو مبارزه رهبري کړي.





د ۱۹۱۷ کال په فبرورۍ کې کارګرانو او سرتیرو د پاچا دولت ړنګ کړ. د همدې کال د نوامبر په اومه، خانان او پانګوالان یې هم له خپل هیواد څخه وشړل.

د هغوی ټولې ځمکې، کارخانې او مال او شتمنۍ چې په بې غیرتۍ سره یې لاس ته راوړې ول، ملي کړل او د کارګري حکومت په نامه یې خاص خکومت چې په نړۍ کې لومړنی کارګري حکومت دی، جوړ کړ.

له دې سره نور نه پاچا او نه هم خانان، بلکې په خپله کارګران او کلیوال د خپل هیواد واکمن ول او پریکړه یې کوله چې څه وکړي. سره راغونډیدل او دې راغونډیدنې ته یې «شورا» ویله.





دوی ته دا ټول بهیرونه نوی ښکاره کیدل. لنین او د هغه ګوند د دوی په ملتیا په دې سخته لاره کې د یوه نوي ژوند په لوره ګام اخیستو او لنین په دې وخت کې ډیر کارونه تر سره کړل چې بالاخره روغتیایي حالت یې له خطر سره مخامخ شو او په ۱۹۲۴ کال کې، یعنې له انقلاب څخه اوه کاله وروسته سترګې له دې نړۍ پټې کړې.

کله چې لنین سترګې له نړۍ پټې کړې، مونږ ټول په ویر کې ډوب شو، خو هیڅکله مو هغه درسونه چې مونږ ته یې رازده کړل له یاده ونه ایستل او وبه یې هم ونه باسو. مونږ د ژوند تر وروستې سلګې پورې د هغه د آرمانونو په لاره کې هڅه کوو. د هغه د ښوونو په رڼا کې د ژوند او کار لپاره د نوي او غوره ډول بنسټ ږدو.

## "سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قرباني، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاځون دی او انتقام ـ سپیڅلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: ځرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳– زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵– ډیر ترویج، ډیر تبلیغ. ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ —د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

## خپریږي:

## د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي

۱۳۹۰